هېڅ داسې مسلمان نشته چې داسې دعا وکړي چې ګناه یا د خپلوانو پرېکون پکې نه وي، مګر دا چې الله تعالی به ورته درې شیان ورکړي: یا خو به یې دعا ژر قبوله شي، یا به یې الله تعالی ورته د آخرت لپاره ذخیره کړي، او یا به ترې د هغې په اندازه کوم شر دفع کړي، صحابه کرامو وویل: نو مور به ډېرې دعاګانې کوو، هغه وفرمایل: الله ډېر (قبلوونکي او د ډېر خېر والا دی

له ابو سعید رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «هېڅ داسې مسلمان نشته چې داسې دعا وکړي چې ګناه یا د خپلوانو پرېکون پکې نه وي، مګر دا چې الله تعالی به ورته درې شیان ورکړي: یا خو به یې دعا ژر قبوله شي، یا به یې الله تعالی ورته د آخرت لپاره ذخیره کړي، او یا به ترې د هغې په اندازه کوم شر دفع کړي، صحابه کرامو وویل: نو مور به ډېرې دعاګانې کوو، هغه وفرمایل: الله ډېر (قبلوونکي او د ډېر خېر والا دی».

[صحیح دی] [احمد روایت کړی دی]

پېغمبر خبر ورکوي چې کله یو مسلمان دعا وکړي او له الله تعالی څخه داسې څه ونه غواړي چې ګناه وي — د بېلګې په توګه چې ګناه او ظلم کول ورته اسان کړي، یا دا چې د خپلو د پرېکون دعا وکړي — مثلا خپلو اولادونو یا خپلوانو ته ښېراوې وکړي — نو الله تعالی به خامخا د هغه په دعا سره یو له درې شیانو ورکړي: یا خو به یې دعا ژر قبوله کړي او هغه څه به ورکړي چې غوښتلي یې دي. او یا دا چې الله تعالی به یې ورته اجر د قیامت ورځې ته وروسته کړي، په مرتبې لوړلو، یا ترحم او د ګناهونو په بخښلو سره. او یا به ترې په دنیا کې د دعا په اندازه شر دفع کړي. صحابه کرامو نبي صلی الله علیه وسلم ته وویل: نو دعا به زیاته کوو؛ تر څو لدې فضیلتونو څخه یو تر لاسه کړو. هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه څه چې د الله سره دي زیات او لوی دي له هغه څه نه چې تاسو یې ترې غواړئ، د هغه ورکړه خلاصی او پای نه لري.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5100

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee